ووايه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ

له سعد رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يو اعرابي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته ويې ويل: ماته يو څه را وښايه چې زه يې وايم، هغه وفرمايل: «ووايه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ» «له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی شريک نه لري، الله لوی دی په لوی والي سره، او الله لره ډېرې ستاينې دي، الله رب العالمين لره پاکي ده، له يو حالت نه بل ته اوړيدل نشته مګر د غالب الله او حکمت والا رب په زور او ځواک سره» وايي: دا مې د رب لپاره دي، نو زما لپاره څه دي؟ ويې فرمايل: «ووايه: اللهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي» «ای الله، ما ته ښښنه وکړه، په ما رحم وکړه، ما ته لارښوونه وکړه او ما ته روزي راکړه».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د باندې يو اوسېدونکي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې يو ذِکر وروښايي چې ويې لولي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: ووايه: "لا إله إلا الله وحده لا شريك له" د عبادت حقدار نشته دی مګر يو الله دی چې شريک نه لري، نو د الله په يووالي له ګواهۍ ورکولو يې پيل وکړ، او معنا يې دا ده چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، "الله أكبر كبيرًا" الله لوی دی په لوی والي سره. يعنې: الله له هر شي نه لوی دی. "والحمد لله كثيرًا" او الله لره زياته ستاينه ده يعنې الله لره ډيره ستاينه ده، د هغه په صفتونو، فعلونو او هغو نعمتونو سره چې - د ډيروالي له امله - نه شمېرل کيږي. "سبحان الله رب العالمين" پاکي ده الله لره چې د مخلوقاتو رب دی. يعنې: له هرې نېمګړتيا څخه پاک او سپېڅلی دی، "لا حول ولا قوة إلا بالله العزيز الحكيم" له ګناه څخه ګرځېدل نشته او د نېکو کارونو توفيق نشته مګر د الله په مرسته چې غالب او حکيم ذات دی. يعنې: له يو حال نه بل حال ته اوړيدل نشته مګر د الله په مرسته او توفيق سره. نو هغه سړي وويل: دا کلمې خو مې د رب د يادولو او لويۍ بيانولو لپاره شوې، نو د خپل ځان لپاره په څه سره دعا وکړم؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې: ووايه: "اللهم اغفر لي" ای الله ما ته بخښنه وکړې. د ګناهو په بخښلو او پټولو سره، "وارحمني" او په ما رحم وکړې ما ته د ديني او دنياوي ګټو په رسولو سره، "واهدني" او ماته لارښوونه (هدايت) وکړې. غوره شرايطو او سمې لارې ته، "وارزقني" او ماته رزق راکړې. حلال مال، روغتيا، او هره نيکمرغي او عافيت.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6112

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee